# پرمختیا
اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۱۰۶ مه گڼه • پنجشنبه • د لړم ۲۳مه • ۱۳۹۸




۱۰

## په دایکندي ولایت کې د ۲٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښوونځي پروژه بشپړه شوه



٤

په سمنگانو کې د نږدې ٦ ملیونه افغانیو په ارزښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د جوړولو کار روان دی



٦

پر بیرته راستنیدونکو غالۍ اوبدونکو د خوندیتابه توکي وویشل شول




# د ننگرهار په نازیانو ولسوالۍ کې د درې نیم میلیونه افغانیو په لگښت د څښاک د اوبو یوه شبکه گټې اخیستنې ته وسپارل شوه

۱۳۹۸/ لړم / ۲۲ مه

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو، روغتیا ساتنې او اوبو لگولو ملي پروگرام له لوري د ننگرهارولایت د نازیانو په ولسوالۍ کې د درې نیم میلونه افغانیو په لگښت د اوبورسولو یوه شبکه گټې اخېستنې ته وسپارل شوه .

د ننگرهار ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجینر مجیب الرحمن ضیاء وویل دغه شبکه د نازیانو ولسوالۍ د لندۍ سیمې په منځنۍ کلي کې جوړه شوې ده چې د سېمې نږدې څلور سوه کورنیو ته یې د څښلو اوبه برابرې کړې او د خلکو لس سلنې ونډې په اخېستلو سره په دې پروژه ۳،۵ میلیونه افغانۍ لگښت شوی.

د یادونې وړ ده، چې تردې وړاندې د نازیانو ولسوالۍ زړې لندۍ حیدرجان کلي کې هم د یوې شبکې په جوړیدو سره نږدې ۲۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې وې .




# په بغلان کې د اوبو لګولو دوه پروژې بشپړې شوې

۱۹/ لړم / ۱۳۹۸

د نږدې ۱ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د کانال د ۱ پروژې د تطبیق چارې په بغلان ولایت کې بشپړې شوې. د دغې پروژې په لړ کې د دغه ولایت د تاله او برفک ولسوالي په پیش قل کلي کې د ۱۷۰ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو کانال په پاخه او اساسي ډول جوړ شویدي. د یادې پروژې د تطبیق پر مهال ۷۰۹ کاري ورځې رامنځته او د سیمې ۳۰ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راولي چې ٤۲۰۰ اوسیدونکي به ترې ګټه پورته کړي.

همدا رازد نږدې ۲ لکه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د سوپر پسیج او کانال د پروژې د تطبیق چارې هم په بغلان ولایت کې بشپړې شوې. د دغې پروژې په لړ کې د دغه ولایت د تاله او برفک ولسوالي په پیش قل کلي کې د خه باندې ۲۵ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو کانال او ۸ متره سوپر پسیج په پاخه او اساسي ډول جوړ شویدي. د یادې پروژې د تطبیق پر مهال ۹۲ کاري ورځې رامنځته او د سیمې ۹ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راولي چې ۸٤۰ اوسیدونکي به ترې ګټه پورته کړي. دغه پروژې د ایټالیا له لوري تمویل او د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام د IFAD څانګې تر څار لاندې د ځایي پرمختیایي شوراګانو له لوري تطبیق شوې.



# په جوزجان ولایت کې د اوبو لگولو د یو کانال د جوړولو کار بشپړ شو

۱۳۹۸/ لړم / ۱٦

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د نږدې ۲ ملیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لگولو د یو کانال د جوړولو کار د جوزجان ولایت د شبرغان ښار د میر شکارعلیا کلي د پراختیایي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. دغه کانال ۱۵۰۰ متره اوږدوالی لري. د نوموړې پروژې د کار په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته ۱۱۰۰ کاري ورځې رامنځته شویدي او همدا اوس ۷۸ کورنۍ ترینه ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې دغه کانال د خلکو ۶۰۰ جریبه ځمکه خړوبوي.

# په سمنگانو کې د نږدې ٦ ملیونه افغانیو په ارزښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د جوړولو کار روان دی

۱۳۹۸/ لړم / ۱۹

د نږدې ٦ ملیونه افغانیو په ارزښت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ښاري بریښنا د یوې شبکې د جوړولو کار د سمنگانو ولایت د حضرت سلطان ولسوالۍ د کوکه بلاق پایین کلي د پراختیایي شورا لخوا روان دي. په نوموړې شبکه کې د ۳۷۵۰ مترو په اوږدوالي د ۲۰ کیلوواټو او د ۳٤۰۰ مترو په اوږدوالي د صفر اعشاریه ٤ کیلوواټو د بریښنا مزو د غځولو لپاره ۱٤۳ د ټي پي او اس پي ستنې په نظر کې نیول شوې دي. د یادونې وړ ده چې دغه شبکه ۲ ټرانسفارمرونه لري چې د هریوه ظرفیت ۱۸۰ کیلوواټه دي او د پروژې د بشپړیدو وروسته به ۲۵٤ کورنۍ ترینه ګټه پورته کړي.







# د دشتک او ساکه د پروژو کار مخ ته تللی

۱۹ / لړم / ۱۳۹۸

د څه باندې ۳ میلیون افغانیو په ارزښت د بغلان ولایت د پل حصار ولسوالي په دشتک کلي د اوبو لګولو د ۳۰ متره سوپر پسیج د جوړولو د پروژې کار ۵۰ سلنه مخ ته تللي دي. د دغې پروژې د تطبیق پر مهال ۱۷٦۰ کاري ورځې رامنځته او په بشپړېدو به یې د سیمې ۱۱٤۱ اوسیدونکي تر ېې ګټه پورته کړي. د یادې پروژې په بشپړېدو به د سیمې سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راشي او پدې توګه به د ځایي بزګرانو د حاصلاتو د لوړېدو له لارې د دوي د اقتصادي اړخ د غوړېدا په برخه کې ګټوره پریوځي.

همدا راز د څه باندې ۳ میلیون افغانیو په ارزښت د بغلان ولایت د ده صلاح ولسوالي په ساکه کلي کې د ۱٦۵ متره استنادي دیوال د جوړولو د پروژې کار هم ۷۰ سلنه مخ ته تللي دي. د دغې پروژې د تطبیق پر مهال ۲۵۲۷ کاري ورځې رامنځته او په بشپړېدو به یې د سیمې ۱۰۵۰ اوسیدونکي ترې ګټه پورته کړي یادې پروژې د ایټالیان له لوري تمویل او د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام د IFAD څانګې تر څار لاندې تطبیقیږي په دې دویمې پروژې سره به د سیمې سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه د سیلابونو له زیان څخه خوندي شي او پدې توګه به ځایي بزګرانو ته د موسمي سیلابونو د بهیدو له امله د ور اوښتونکي اقتصادي زیان مخه نوره ونیول شي.

# پر بیرته راستنیدونکو غالي اوبدونکو د خوندیتابه توکي وویشل شول



۲۱/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له خوا د بیرته را ستانه شویو افغانانو سره د مرستې په توګه د حفاظتي تدابیرو په مناسبت نن د پلازمېنې کابل د کلیو پراختیا په ریاست کې یو شمیر وسایل وویشل شول، په دې وسایلو کې د غالیو اوبدلو لپاره جامې، خځلنې، ملابند او د بدني روغتیا ساتنې په موخه چې د کار پر مهال پاکه هوا تنفس کړي؛ ماسکونه/پوزبندونه وویشل شول. هېواد ته د بیرته راستنېدونکیو افغانانو لپاره د تشبثاتو د پرمختیا پروژه له څه باندې یو کال راهیسې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام تر سیوري لاندې فعالیت لري، چې د پلازمېنې کابل په ګډون یې ۷ ولایتونه تر پوښښ لاندې نیولي. یادې پروژې په دې موده کې د پلازمېنې په ګډون د هېواد په ۷ ولایتونو کې نږدې ۵۰۰۰ د غالیو اوبدلو کارګاوې په بېرته راستنو شویو هېوادوالو ویشلي، چې په دې توګه یې نږدې پنځلس زره هېواد والو ته د غالیو اوبدلو او پروسس په سکتور کې بوختیاوې پیدا کړې دي. د یادونې وړ ده چې دا پروژه د غالیو اوبدلو په برخه کې هېواد ته د بېرته راستنو شویو هېوادوالو لپاره د روزنیزه لیدنو سربېره، له مارکېټ سره د اړیکو په برخه کې د تولیداتو د پلورنې په موخه اسانتیاوې برابروي، چې اوس یې په دې سکتور کې د حفاظتي تدابیرو یا خوندي ساتنې لپاره نږدې د ۷ میلونه او پنځه سوه زره افغانیو خوندي کونکي وسایل را نیولي، چې په لومړي ځل یې د دې پروژې ۶۰ ګټه اخیستونکو ته په پلازمېنې کابل کې د وسایلو ویش ترسره کړ. د خوندیتابه وسایلو د ویش دا لړۍ په کابل کې د یادې پروژې په ګټه اخیستونکو روانه او په ولایتونو کې به هم په نږدې وخت کې پیل شي.



# د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي پورونو او سپما د ټولنو سروې پیل شوه

۲۰/ لړم/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت مقام په حکم د پور ورکونې او سپما د کلیوالي اتحادیو ( ټولنو) چې د کلیوالي اقتصاد د پرمختیا له ملي پروګرام سره تړاو لري سروې په پنځو ولایتونو( هرات، بامیان، بلخ، ننګرهار او پروان) ولایتونو کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د انسټیټوټ له خوا پیل او تر سره به شي. په دې سروې کې انسټیټوټ په تخنیکي ډول د یادو ولایتونو له ۵۰۰ اتحادیو (ټولنو) څخه ۱۷۵ اتحادیې په تصادفي ډول په نښه کوي او سروې به یې عملا پیلوي. د یادونې وړ ده چې تر اوسه په یادو ولایتونو کې د کلیوالي اقتصاد د پرمختیا پروګرام ګڼې پروژې پلې کړې او ډېرې نورې یې د پلي کیدا په حال کې دي.



# د حاجي شیر جان کلي د پروژې کار ۹۰ سلنه بشپړ شو

۲۱ / لړم / ۱۳۹۸

د نږدې ٦ میلیون افغانیو په ارزښت د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالي په حاجي شیرجان کلي کې د اوبو لګولو د ۷۲۲ متره کانال، کاریز او بند د جوړولو د پروژې کار ۹۰ سلنه بشپړ شوي دي. د دغې پروژې د تطبیق پر مهال ۳۸۳۱ کاري ورځې رامنځته او په بشپړیدو به یې د سیمې ۱۰۵۰ اوسیدونکي ترې ګټه پورته کړي. د یادې پروژې په بشپړیدو به چې له ملي بودیجې تمویل او د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام تر څار لاندې تطبیقیږي د سیمې ۹۰ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راشي او په دې توګه به د ځایي بزګرانو د حاصلاتو د لوړیدو له لارې د دوي د اقتصادي اړخ د غوړیدا په برخه کې ګټوره پریوځي.



# د بسراق احمدزي کلي د پروژې کار ۹۰ سلنه بشپړ شو

۲۲ / لړم / ۱۳۹۸

د نږدې ۲ نیم میلیون افغانیو په ارزښت د میدان وردګو ولایت په مرکز بسراق احمدزي کلي کې د اوبو لګولو د ۲۱۲ متره کانال، کاریز او بند د جوړولو د پروژې کار ۹۰ سلنه بشپړ شویدي.
د دغې پروژې د تطبیق پر مهال ۱٦۱۹ کاري ورځې رامنځته او په بشپړیدو به یې د سیمې ۱۰۵۰ اوسیدونکي ترې ګټه پورته کړي.
د یادې پروژې په بشپړیدو به چې له ملي بودیجې تمویل او د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام تر څار لاندې تطبیق کیږي د سیمې ۷۵ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راشي او پدې توګه به د ځایي بزګرانو د حاصلاتو د لوړیدو له لارې د دوی د اقتصادي اړخ د غوړیدا په برخه کې ګټوره پریوځي.



# په دایکندي ولایت کې د ښوونځي پروژه بشپړه شوه

لړم / ۲۲/ ۱۳۹۸

د نږدې ۲٤ میلیونه افغانیو په ارزښت په دایکندي ولایت کې د ښوونځي د جوړولو پروژه بشپړه شوه. د دغې پروژې په لړ کې ۱٦ صنفي ښوونځي د دغه ولایت د اشترلي ولسوالي په لرګر خوشک کلي کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوي دي. د یادې پروژې د تطبیق پر مهال ۵۲۵۲ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ۲۵۰۰ کسه له دغې پروژې ګټه پورته کوي. دغه پروژه له ملي بودیجې تمویل او د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام تر څار لاندې د ځایي پرمختیایي شورا له لوري تطبیق شویده.